د افغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

فوق العاده ګڼه

# د مالياتو د چارو د اداري قانون

# قانون ادارهٔ امور ماليات

دخپرېدو نېټه: د۱۳۹۴ هــ.ش کال دلړم دمياشتی (۲۷)
پرله پسې نمبر: (۱۱۹۸)

تاريخ نشــر: (۲۷) عقرب سال ۱۳۹۴ هــ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۹۸)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (٦۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه: بهیـــــر

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباط‌عامه، چهارراهی پشتونستان

## د مالياتو د چارو د اداري د قانون دتوشېح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه: (۶۳)

نېټه: ۴/ ۶/ ۱۳۹۴

**لومړۍ ماده:**

دافغانستان داساسي قانون د(۶۴) مادې د(۱۶) فقرې دحکم له مخې، د مالياتو د چارو د اداري قانون چې دملي شوري د مجلسينو دګډ هيئت ۸/ ۴/ ۱۳۹۴ نېټې (۱۶۱) ګڼې پرېکړې پربنسټ، په (۱۳) فصلونو او(۶۵) مادو کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او دملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې اود ياد شوي قانون له متن سره يو ځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون ادارۀ امور ماليات

شماره: (۶۳)

تاريخ: ۱۳۹۴/۶/۴

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱۶) مادۀ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، قانون ادارۀ امور ماليات را که براساس فيصلۀ شماره (۱۶۱) مؤرخ ۱۳۹۴/۴/۸ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل (۱۳) فصل و (۶۵) ماده تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و همراه با فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی و متن قانون مذکور، در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

فيصله

## د مالياتو د چارو د ادارې قانون

پرله پسې ګڼه: (۱۶۱)

د فيصلې نېټه: ۸/ ۴/ ۱۳۹۴

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له مخې، د ملي شوري د دواړو جرګو د ګډ هيئت د هرې جرګې له غړو څخه د پنځو، پنځو تنو په ترکيب سره، د مالياتو د چارو د ادارې د قانون طرحه په (۱۳) فصلونو او (۶۵) مادو کې د ۸/ ۴/ ۱۳۹۴ نېټې د دوشنبې ورځې په غونډه کې فيصله کړه.

دګډ هيئت رئيس

داکتر انارکلی هنريار

دګډ هيئت مرستيال

رقيه نايل

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فيصله

## قانون ادارهٔ امور ماليات

شماره مسلسل: (۱۶۱)

تاريخ فيصله: ۱۳۹۴/۴/۸

به تأسی از حکم مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به ترکيب پنج، پنج نفر از اعضای هر جرگه طرح قانون اداره امور ماليات را در (۱۳) فصل و (۶۵) ماده در جلسهٔ روز دوشنبه مؤرخ ۱۳۹۴/۴/۸ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

داکتر انارکلی هنريار

معاون هيئت مختلط

رقيه نايل

## فهرست مندرجات قانون ادارهٔ امور مالیات

## فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۱ |
| مادهٔ چهارم: | مرجع تطبیق | ۶ |


## فصل دوم

### حقوق و مکلفیت های مالیه دهندگان


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ پنجم: | حقوق مالیه دهنده | ۶ |
| مادهٔ ششم: | مکلفیت های مالیه دهنده | ۸ |


## فصل سوم

### اظهار نامهٔ مالیاتی و تعیین مالیه


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ هفتم: | ارائه اظهار نامهٔ مالیاتی | ۹ |
| مادهٔ هشتم: | ارائه دقیق اظهارنامه و تعیین تخمینی مالیه | ۱۱ |
| مادهٔ نهم: | تثبیت مالیهٔ ناشی ازمعامله میان اشخاص مرتبط | ۱۳ |
| مادهٔ دهم: | کاهش مالیه | ۱۳ |

## فصل چهارم

## منازعات مالیاتی

مادهٔ یازدهم: اعتراض........................................۱۴
مادهٔ دوازدهم: عدم قناعت بر تصمیم اعتراض...................۱۵
مادهٔ سیزدهم: اعتبار اسناد.....................................۱۶
مادهٔ چهاردهم: مسئولیت اثبات و سایر موارد ...............۱۷

## فصل پنجم

## تحصیل مالیات

مادهٔپانزدهم: پرداخت مالیه......................................۱۸
مادهٔ شانزدهم: تحصیل مالیات تأدیه نا شده مالیه دهند............
از شخص سوم............................. ۱۹
مادهٔ هفدهم: تعدیل اطلاعیهٔ تحصیل مالیه به شخص سوم....۲۱
مادهٔ هجدهم: رعایت اطلاعیهٔ تحصیل مالیه...................۲۲
مادهٔ نزدهم: تصفیه کننده.......................................۲۳
مادهٔ بیستم: تعلیق معاملات مالی..............................۲۴
مادهٔبیست ویکم: عدم رعایت مکلفیت مالیه موضوعی...............
(قابل وضع) بر کرایه........................... ۲۵
مادهٔ بیست ودوم: متوقف نمودن فعالیت .......................۲۶
مادهٔ بیست وسوم: حالات ممنوع الخروج بودن ................۲۸
مادهٔ بیست وچهارم: محدویت انتقال و فروش دارائی ها ............۲۹

## فصل ششم

## حفظ اسناد و جمع آوری معلومات

مادۀ بیست وپنجم: ترتیب و نگهداری اسناد و دفاتر..............۳۲

مادۀ بیست وششم: مطالبۀ معلومات..............................۳۳

مادۀ بیست وهفتم: ورود کارکن مالیاتی به محلات................۳۵

## فصل هفتم

## نمبر تشخیصیه مالیه دهنده

مادۀ بیست وهشتم: درخواست نمبر تشخیصیه.....................۳۷

مادۀ بیست ونهم: لغو نمبر تشخیصیه.............................۳۸

مادۀ سی ام: درج نمبر تشخیصیه ..............................۳۹

## فصل هشتم

## نمایندگی از مالیه دهنده

مادۀ سی ویکم: مکلفیت ها و وجایب نماینده.................۳۹

مادۀ سی ودوم: مکلفیت رئیس وسهمدار کنترول کننده...........
شرکت.........................................۴۱

مادۀ سی وسوم: ثبت محاسب مالیاتی ...........................۴۲

## فصل نهم

## مالیات اضافی

مادۀ سی وچهارم: مالیۀ اضافی تأخیر در تأدیات ................ ۴۴

مادۀ سی و پنجم : مالیۀ اضافی عدم ارائه اسناد مالیاتی .......... ۴۵

**مادهٔ سی و ششم :** مالیهٔ اضافی عدم وضع یا عدم........................
تأدیه مالیه موضوعی..........................۴۶
**مادهٔ سی و هفتم :** مالیهٔ اضافی عدم تهیه و حفظ اسناد و دفاتر....۴۷
**مادهٔ سی و هشتم:** مالیهٔ اضافی عدم رعایت اطلاعیه...............۴۷
**مادهٔ سی و نهم :** مالیهٔ اضافی عدم ارائه معلومات...............۴۸
**مادهٔ چهلم :** مالیهٔ اضافی اظهارات نادرست یا.....................
گمراه کننده ..................................۴۸
**مادهٔ چهل و یکم:** مالیهٔ اضافی کتمان مالیه.....................۵۰
**مادهٔ چهل و دوم:** مالیهٔ اضافی عدم درخواست نمبر تشخیصیه....۵۰
**مادهٔ چهل وسوم:** مالیهٔ اضافی عدم رعایت قانون مالیه..............
بر ارزش افزوده................................۵۱
**مادهٔ چهل وچهارم:** محاسبه مالیه اضافی ..........................۵۲

## فصل دهم

## مجازات مالیاتی

**مادهٔ چهل وپنجم:** تخلفات مالیاتی ............................۵۳
**مادهٔ چهل وششم:** ایجاد موانع در برابر کارکنان مالیاتی..........۵۷
**مادهٔ چهل وهفتم:** شریک تخلف...................................۵۸
**مادهٔ چهل وهشتم:** تخلفات اشخاص حکمی .......................۵۸
**مادهٔ چهل ونهم:** انصراف از تعقیب عدلی .........................۵۹
**مادهٔ پنجاهم:** مرور زمان ......................................۶۰

مادۀ پنجاه ویکم: سوء استفاده از موقف وظیفوی................٦١

فصل یازدهم

فورم ها و اطلاعیه ها

مادۀ پنجاه ودوم: تهیه فورم ها و اطلاعیه ها ...................٦١
مادۀ پنجاه وسوم: تسلیمی اطلاعیه ........................٦٢
مادۀ پنجاه وچهارم: محرمیت معلومات...........................٦٢
مادۀ پنجاه وپنجم: ایجاد بورد................................. ٦٣
مادۀ پنجاه و ششم : عدم قناعت بر تصمیم اعتراض ..........٦٦
مادۀ پنجاه و هفتم : تصمیم بورد حل منازعات مالیاتی ............٦٧
مادۀ پنجاه و هشتم: صلاحیت ها و وظایف بورد حل..................
منازعات مالیاتی...............................٦٧

فصل دوازدهم

تصدیق نامه‌های تصفیه مالیه و بازپرداخت‌ها

مادۀ پنجاه ونهم: تصدیق نامه ................................٧٠
مادۀ شصتم: باز پرداخت ..............................٧١
مادۀ شصت ویکم: مجرائی، انتقال و تأدیه باز پرداخت............٧٢

فصل سیزدهم

احکام متفرقه

مادۀ شصت و دوم: وضع مقرره و طرزالعمل ها ..................٧٣
مادۀ شصت و سوم: احکام انتقالی.................................٧٣

مادۀ شصت و چهارم: ارجحیت قانون ....................................۷۴
مادۀ شصت و پنجم: تاریخ انفاذ ........................................۷۵

## د مالياتو د چارو د اداري قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د دوه څلویښتمې مادې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د مالیاتو د چارو د ادارې تنظیمول.

۲- د مالیاتي قوانینو د حکمونو مطابق د مالیاتو د راټولولو او ترلاسه کولو ډول.

۳- د مالیه ورکوونکو او د مالیاتو د ادارې د حقوقو او مکلفیتونو تنظیمول.

**اصطلاحګانې**

**دریمه ماده:**

(۱) راتلونکې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- مالیه ورکوونکی: هغه شخص دی چې د مالیاتي قوانینو د حکمونو مطابق، د

## قانون ادارهٔ امور مالیات

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون به تأسی از حکم مادهٔ چهل ودوم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت است از:

۱- تنظیم ادارهٔ امور مالیات.

۲- طرز جمع آوری و تحصیل مالیات مطابق احکام قوانین مالیاتی.

۳- تنظیم حقوق ومکلفیت های مالیه دهندگان و اداره مالیات.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم:**

(۱) اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- مالیه دهنده: شخصی که مطابق احکام قوانین مالیاتی، تابع ادای مکلفیت

مالياتي مکلفيت د اداء کولو تابع دی.

۲- مالياتي قوانين: پرعايداتو باندې د مالياتو قانون، د ارزښت پر زياتوالي د ماليې قانون، دغه قانون او په مالياتو پورې اړوند نور قوانين شامل دي. د گمرکونو قانون پدې تعريف کې نه شامليږي.

۳- مالياتي دوره: هغه ټاکلې موده ده چې د هر ډول مالياتي مکلفيت د اداء کولو په اړه چې په مالياتي قوانينو کې اټکل شوې، ده.

۴- مالياتي اظهارليک: د مالياتو د ادارې منظور شوی فورم دی چې په هغه کې مالياتي ذمت سنجش او تثبيتيږي او پربنسټ يې ورکړه صورت مومي.

۵- اضافي ماليه: هغه ماليه ده چې د ماليه ورکوونکي د مکلفيت د نه اداء کولو پربنسټ، د قانون د حکمونو مطابق له هغه څخه اخيستل کيږي.د محکمې په واسطه له محکوميت څخه راپيدا شوې جريمې پدې تعريف کې نه شامليږي.

۶- مالي کال: هغه موده ده چې د هجري لمريز کال د مرغومې د مياشتې له لومړۍ نېټې څخه پيل او د راورروستي هجري

مالياتی می باشد.

۲- قوانين مالياتی: شامل قانون ماليات برعايدات، قانون ماليه بر ارزش افزوده، اين قانون و ساير قوانين مربوط به ماليات می باشد. قانون گمرکات شامل اين تعريف نمی گردد.

۳- دورۀ مالياتی: مدت معين است که به ارتباط ادای هرنوع مکلفيت مالياتی که درقوانين مالياتی پيشبينی گرديده، می باشد.

۴- اظهارنامۀ مالياتی: فورم منظور شده ادارۀ ماليات است که در آن ذمت مالياتی سنجش و تثبيت گرديده و به اساس آن تأديه صورت می گيرد.

۵- ماليه اضافی: ماليۀ است که بنابر عدم ادای مکلفيت ماليه دهنده، مطابق احکام قانون از وی اخذ می گردد. جريمه های ناشی از محکوميت توسط محکمه شامل اين تعريف نمی گردد.

۶- سال مالی: مدتی است که از اول ماه جدی سال هجری شمسی آغاز و الی اخير ماه قوس سال بعدی

لمريز کال د لينديځ د مياشتې تر پايه پورې دوام مومي يا هغه دوره ده چې د ماليه ورکوونکي د غوښتنليک پربنسټ، د مالياتو د ادارې لخوا منظورېږي.

۷- مالياتي تصميم: هغه مالياتي سنجش او تصميمونه دي چې ددې قانون د اوومې مادې، د يوولسمې مادې د (۳) فقرې، د پنځلسمې مادې د (۳ او ٦) فقرو، د شپاړسمې مادې د (۱) فقرې، د اوولسمې مادې د (۳) فقرې، د نولسمې مادې د (۲ او ۳) فقرو، د شلمې، يو ويشتمې، دوه ويشتمې، درې ويشتمې، اته ويشتمې او نهه ويشتمې، نهه پنځوسمې او شپېتمه مادې د حکمونو او د ارزښت پر زياتوالي د ماليې په قانون کې درج د ثبت د غوښتنليک د رد د تصميمونو مطابق، د ماليې وزارت لخوا نيول کېږي.

۸- تصفيه کوونکی: هغه شخص دی چې د قانون د حکمونو مطابق، تصفيه کوونکی، د ورشکستګي په حالت کې شخص د مسئول يا امين يا د تصرف صلاحيت لرونکي رهن اخيستونکي او يا د متوفي د شتمنۍ د موجوديت په صورت

هجری شمسی ادامه می یابد یا دوره ای است که به اساس در خواست مالیه دهنده از طرف ادارۀ مالیات منظور می گردد.

۷- تصمیم مالیاتی: سنجش مالیاتی و تصامیم است که مطابق احکام مادۀ هفتم، فقرۀ (۳) مادۀ یازدهم، فقره های (۳ و ٦) مادۀ پانزدهم، فقره (۱) مادۀ شانزدهم، فقرۀ (۳) مادۀ هفدهم، فقره های (۲ و ۳) مادۀ نزدهم، مواد بیستم، بیست ویکم، بیست ودوم، بیست وسوم، بیست وهشتم و بیست و نهم، پنجاه ونهم و مادۀ شصتم این قانون و تصمیم رد درخواست ثبت مندرج قانون مالیه بر ارزش افزوده از طرف وزارت مالیه اتخاذ می گردد.

۸- تصفیه کننده: شخصی که مطابق احکام قانون بحیث تصفیه کننده، مسئول یا امین شخص در حالت ورشکستگی یا رهن گیرندۀ دارای صلاحیت تصرف و یا در صورت موجودیت دارائی متوفی، اجراء

کې د هغه د مالي حسابونو او مکلفيتونو د تصفيې د اجراء کوونکي په توګه ټاکل شوی وي.

۹- دريیم شخص: لاندې اشخاصو تـه شامل دي:

- د ماليه ورکوونکي پوروړی (مقروض) وي يا په راتلونکي کې شي.

- د ماليه ورکوونکي پيسې په واک کې ئې وي يا قرار ومومي.

- د بل شخص پيسې ماليه ورکوونکي ته د هغې د ورکړې په منظور په واک کې ولري.

- ماليه ورکوونکي ته د پيسې د ورکړې واک ولري.

۱۰- استازی، لاندې اشخاصوته شـامل دي:

- هغه شخص چې د قانون د حکمونـو مطابق د ماليه ورکوونکي لخـوا ټاکـل کيږي.

- په شرکتونو کې، عامل مدير.

- په تضامني شرکتونو کې، هر يـو لـه شريکانو څخه.

- د شخص د شتمنۍ په تصـفيې کـې،

کنندۀ تصفيه حسابات و مکلفيت هـای مـالی وی تعيـين شـده باشد.

۹- شخص سوم: شامل اشخاص ذيـل می باشد:

- مقروض ماليه دهنده بوده يا در آينده گردد.

- پول ماليه دهنده در اختيارش بوده يا قرار گيرد.

- پول شخص ديگر را به منظور تأديـه آن به ماليه دهنده در اختيـار داشـته باشد.

- صلاحيت پرداخت پول را به ماليـه دهنده داشته باشد.

۱۰- نماينده شـامل اشـخاص ذيـل می باشد:

- شخصی که مطابق احکـام قـانون ازطـرف ماليـه دهنـده تعيـين می شود.

- در شرکت ها، مدير عامل.

- در شرکت های تضامنی، هر يک از شرکاء.

- در تصفيه دارائی شـخص، تصـفيه

تصفیه کوونکی.

– د غیر مېشت شخص په هکله، هغه شخص چې په افغانستان کې د هغه د چارو دپرمخ بیولو مسئولیت په غاړه لري.

– د دولتي ادارو، بهرنیو دولتونو یا سیاسي نمایندګیو په هکله، د نوموړو ادارو په استازیتوب د وجوهو د ترلاسه کولو یا ورکولو مسئول شخص.

– په مجتمع کې د نورو هغو اشخاصو چې پورته ترې یادونه نه ده شوې، د هغوی په استازیتوب د وجوهو د ترلاسه کولو یا ورکولو مسئول شخص.

۱۱– مالیاتي محاسب: هغه شخص دی، چې د دغه قانون د درې دېرشمې مادې د (۱) فقرې د شرایطو له بشپړېدو وروسته، له مالیاتي ادارې څخه د فعالیت جواز ترلاسه کوي.

(۲) هغه اصطلاحګانې چې پدې قانون کې نه دي تعریف شوي او په هغهٔ صورت کې چې په مالیاتي قوانینو کې تعریف شوي وي، پدې قانون کې هم عین مفهوم افاده کوي.

کننده.

– در مورد شخص غیر مقیم، شخصیکه مسئولیت پیشبرد امور وی را درافغانستان به عهده دارد.

– در مورد ادارات دولتی، دول خارجی یا نمایندگی های سیاسی، شخص مسئول دریافت یا تأدیه وجوه به نمایندگی از ادارات مذکور.

– در مجتمع، سایر اشخاصی که درفوق ازآن تذکر بعمل نیامده، شخص مسئول دریافت یا تأدیه وجوه به نمایندگی از آنها.

۱۱– محاسب مالیاتی: شخصی است که بعد از تکمیل شرایط فقرهٔ (۱) مادهٔ سی وسوم این قانون، جواز فعالیت را از ادارهٔ مالیات به دست می آورد.

(۲) اصطلاحاتی که دراین قانون تعریف نگردیده و در صورتیکه در قوانین مالیاتی تعریف شده باشد، دراین قانون نیز عین مفهوم را افاده می نماید.

**د تطبيق مرجع**

**څلورمه ماده:**

د ماليې وزارت ددې قانون د تطبيق بنسټيزه مرجع ده. نور وزارتونه، دولتي او نا دولتي ادارې له غوښتنې سره سم، ددې قانون د حکمونو په تطبيق کې له ماليې وزارت سره همکاري کوي.

## دوه يم فصل

## د ماليې ورکوونکو حقوق او مکلفيتونه

**د ماليې ورکوونکي حقوق**

**پنځمه ماده:**

(۱) ماليه ورکوونکی لاندې حقوق لري:

۱- د مالياتي قوانينو د حکمونو مطابق د محاسبې، رپوټ ورکونې او د مالياتو د ورکړې په منظور، د مالياتو له ادارې څخه د مالياتي اظهارليک، فورمونو او وړيا مرستې (تخنيکي همکارۍ) ترلاسه کول.

۲- د اړوند مالياتي وضعيت په هکله، د مالياتو له ادارې څخه د ليکلو معلوماتو ترلاسه کول.

**مرجع تطبيق**

**مادۀ چهارم:**

وزارت ماليه مرجع اساسی تطبيق اين قانون می باشد. ساير وزارت ها، ادارات دولتی و غير دولتی عندالمطالبه در تطبيق احکام اين قانون با وزارت ماليه همکاری می نمايند.

## فصل دوم

## حقوق و مکلفيت های ماليه دهندگان

**حقوق ماليه دهنده**

**مادۀ پنجم:**

(۱) ماليه دهنده دارای حقوق ذيل می باشد:

۱- دريافت اظهارنامۀ مالياتی، فورم ها وکمک رايگان (همکاری تخنيکی) از ادارۀ ماليات به منظور محاسبه، گزارش دهی و پرداخت ماليات مطابق احکام قوانين مالياتی.

۲- کسب معلومات کتبی از ادارۀ ماليات در مورد وضعيت مالياتی مربوط.

۳- د هغه د مالياتو د سنجش او ترلاسه کولو په هکله، شته معلوماتو ته لاس رسی او د مالياتو له اداري څخه د نا بشپړو يا نا سمو معلوماتو د نوي کېدو يا تعـديل غوښتنه.

۴- په مستقيمه توګه يا د اسـتازي پـه واسطه د مالياتو په اداره کې له خپلو ګټو څخه دفاع کول.

۵- د مالياتي قوانينو د حکمونو مطابق، د اضافه ورکړې ماليې د بېرته ورکړې يـا مجرايی ترلاسه کول.

٦- د هغو سندونو په هکله د څرګندونې غوښتل او ترلاسه کول چې د ماليـاتو د اداري په واسطه د هغو په اړه راټول شوي دي.

۷- په مالياتي قوانينو او نورو قوانينو کې له درج شوو نورو حقوقو څخـه ګټـه اخيستنه.

(۲) د ماليه ورکوونکي پـه وړانـدې د مالياتو د اداري کارکوونکی د لانـدې مکلفيتونو لرونکی دی:

۱- نېک او مسلکي چلند کول.

۲- د ماليه ورکوونکي په هکله د راټولو

۳- دسترسی به معلومات موجـود در مورد سنجش و تحصيل ماليـات وی و تقاضای تجديد يـا تعـديل معلومـات نامکمـــل يـــا نادرســـت از ادارهٔ ماليات.

۴- دفاع از منـافع خـويش درادارهٔ ماليات بطـور مسـتقيم يـا توسـط نماينده.

۵- دريافت باز پرداخت يا مجرائی ماليه اضافه پرداخت، مطابق احکام قـوانين مالياتی.

٦- مطالبه ودريافت توضيح در مـورد اسـناد کـه توسـط ادارهٔ ماليـات در رابطه بـه وی جمـع آوری شـده است.

۷- اسـتفاده از سـاير حقـوق منـدرج قـوانين ماليـاتی وسـاير قوانين.

(۲) کارکن ادارهٔ ماليات در برابر ماليه دهنده دارای مکلفيـت هـای ذيـل می باشد:

۱- برخوردنيک ومسلکی.

۲- حفظ محرميت معلومات جمع آوری

شوو معلوماتو د محرمیت ساتل.
۳- د مالیه ورکوونکي له غوښتنې سره سم د هغه د مالیاتي وضعیت په هکله، د لیکلو معلوماتو وړاندې کول.
۴- د معلوماتو د وړاندې کولو په وخت کې د هغه د خبرو اورېدل.

## د مالیه ورکوونکي مکلفیتونه

**شپږمه ماده:**

مالیه ورکوونکی لاندې مکلفیتونه لري:
۱- د تشخیصیه نمبر د اخیستلو په منظور، د غوښتنلیک وړاندې کول.
۲- په غوښتنلیک کې د درج شوو معلوماتو د راوروستي بدلونونو د رپوټ وړاندې کول.
۳- د هغو سندونو او معلوماتو وړاندې کول چې د مالیاتو اداره یې د مالیاتي قوانینو، مقرراتو او اړوندو کړنلارو د حکمونو مطابق، غواړي.
۴- د مالیې د تثبیتولو په منظور، د دفترونو او اړوندو سندونو ساتل.
۵- د مالیاتي قوانینو، مقرراتو او د هغو د اړوندو کړنلارو د حکمونو مطابق د

شده در مورد مالیه دهنده.
۳- ارائه معلومات کتبی، عندالمطالبه مالیه دهنده در مورد وضعیت مالیاتی وی.
۴- استماع صحبت های وی حین ارائه معلومات.

## مکلفیت های مالیه دهنده

**مادۀ ششم:**

مالیه دهنده دارای مکلفیت های ذیل می باشد:
۱- ارائه درخواست به منظور اخذ نمبر تشخیصیه.
۲- ارائه گزارش از تغییرات بعدی در معلومات مندرج درخواست.
۳- ارائه اسناد ومعلوماتی که ادارۀ مالیات مطابق احکام قوانین مالیاتی، مقررات وطرزالعمل های مربوط مطالبه می نماید.
۴- حفظ دفاتر و اسناد مربوط، به منظور تثبیت مالیه.
۵- محاسبۀ درست و دقیق مالیات مطابق احکام قوانین مالیاتی، مقررات و

مالیاتو سمه او دقیقه محاسبه.

٦- د مالیاتي کارکوونکو د قانوني دندو د اجراء په وخت کې مزاحمت او ممانعت نه کول.

۷- له اړتیا سره سم، د مالیاتو د ادارې د غوښتنې له امله د څېړنې په بهیر کې حاضرېدل.

۸- د مالیاتي قوانینو د نورو حکمونو په پام کې نیول.

## درېیم فصل

## مالیاتي اظهارلیک او دمالیې ټاکل

### د مالیاتي اظهارلیک وړاندې کول

**اوومه ماده:**

(۱) مالیه ورکوونکی مکلف دی، خپل مالیاتي اظهارلیک د مالیاتي قوانینو د حکمونو مطابق وړاندې کړي.

(۲) که چېرې مالیه ورکوونکی، خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي، د مالیاتو اداره په لیکلي ډول مالیه ورکوونکي ته خبر ورکوي، ترڅو د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته د دېرشو ورځو په ترڅ کې، خپل مالیاتي اظهارلیک

طرزالعمل های مربوط آن.

٦- عدم مزاحمت یا ممانعت به کارکنان مالیاتی حین اجرای وظایف قانونی شان.

۷- حضوردر جریان بررسی یا به اثر درخواست ادارۀ مالیات، عندالضرورت.

۸- رعایت سایر احکام قوانین مالیاتی.

## فصل سوم

## اظهارنامۀ مالیاتی و تعیین مالیه

### ارائه اظهارنامۀ مالیاتی

**مادۀ هفتم:**

(۱) مالیه دهنده مکلف است، اظهار نامۀ مالیاتی خویش را مطابق احکام قوانین مالیاتی ارائه نماید.

(۲) هرگاه مالیه دهنده، اظهارنامۀ مالیاتی خود را ارائه ننماید، ادارۀ مالیات طور کتبی برای مالیه دهنده اطلاع می دهد تا در خلال سی روز بعد از دریافت اطلاعیه، اظهار نامۀ مالیاتی خویش را به ادارۀ مالیات ارائه

د مالیاتو ادارې ته وړاندې کړي.

(۳) د مالیاتو اداره، مالیاتي اظهارلیک څېړي او د نیمګړتیاوو د لرلو په صورت کې د لرې کولو په غرض یې مالیه ورکوونکي ته په لیکلي ډول خبر ورکوي.

(۴) مالیه ورکوونکی مکلف دی، د خبرتیا د ترلاسه کولو له نېټې څخه د دېرشو ورځو په ترڅ کې، نیمګړتیاوې لرې یا د مالیاتو ادارې ته زیات معلومات وړاندې کړي.

(۵) که چېرې مالیه ورکوونکی، د مؤجهو دلیلونو پربنسټ و نشي کړای د مالیاتي قوانینو په حکمونو کې په درج شوې موده کې یا ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې مودې په ترڅ کې خپل اظهارلیک وړاندې کړي، کولای شي د اظهارلیک د وړاندې کولو دمودې له پای ته رسېدو څخه دمخه، د هغه د وخت د تمدیدېدو غوښتنلیک دمالیاتو له ادارې څخه وغواړي.

(٦) د مالیاتو اداره، ددې مادې په (۵) فقره کې درج شوی غوښتنلیک ارزوي، د

نماید.

(۳) ادارۀ مالیات، اظهار نامۀ مالیاتی را بررسی نموده و در صورت داشتن نواقص غرض رفع آن به مالیه دهنده طور کتبی اطلاع می دهد.

(۴) مالیه دهنده مکلف است، درخلال سی روز از تاریخ در یافت اطلاعیه، نواقص را رفع یا معلومات بیشتر را به ادارۀ مالیات ارائه نماید.

(۵) هر گاه مالیه دهنده، بنابر دلایل مؤجه نتواند در میعاد مندرج احکام قوانین مالیاتی یا در خلال میعاد مندرج فقرۀ (۲) این ماده اظهار نامۀ خویشرا ارائه نماید، می تواند قبل از ختم میعاد ارائه اظهار نامه، درخواست تمدید زمان آنرا از ادارۀ مالیات تقاضا نماید.

(٦) ادارۀ مالیات، درخواست مندرج فقرۀ (۵) این ماده را ارزیابی نموده،

**تمدید یا رد په هکله يې تصمیم نیسي او د غوښتنلیک د ترلاسه کولو له نېټې څخه د لسو ورځو په ترڅ کې، مالیه ورکوونکي ته په لیکلي ډول خبر ورکوي.**

**(۷) د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو د وخت تمدیدېدل په مالیاتي قوانینو کې د درج شوې ټاکلې نېټې له پای ته رسېدو څخه، له دریو میاشتو څخه زیات نه وي او دغه تمدید د مالیې د ورکړې ټاکلې نېټه هم نه بدلوي.**

## د اظهارلیک د قیق وړاندې کول او د مالیې اټکلیز (تخمیني) ټاکل

**اتمه ماده:**

**(۱) مالیه ورکوونکی کولای شي، مالیاتي اظهارلیک پخپله یا د خپل استازي په واسطه وړاندې کړي.**

**(۲) که چېرې مالیه ورکوونکی، ددې قانون د اوومې مادې د (۲ او ۳) فقرې د حکم مطابق، خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي یا نیمګړتیاوې یې لرې نه کړي، د مالیاتو اداره مالیاتي ذمت په اټکلیز ډول، سنجوي او د مالیې د ټاکلو یادداښت مالیه ورکوونکي ته صادروي.**

**درمورد تمدید یا رد آن تصمیم اتخاذ ودر خلال ده روز از تاریخ دریافت درخواست، کتباً به مالیه دهنده اطلاع می دهد.**

**(۷) تمدید زمان ارائه اظهارنامهٔ مالیاتی از ختم تاریخ معینه مندرج قوانین مالیاتی، بیشتر ازسه ماه بوده نمی تواند و این تمدید تاریخ معینه تأدیه مالیه را نیز تغییر نمی دهد.**

## ارائه دقیق اظهارنامه وتعیین تخمینی مالیه

**مادۀ هشتم:**

**(۱) مالیه دهنده می تواند، اظهار نامهٔ مالیاتی را خود یا توسط نماینده خویش ارائه نماید.**

**(۲) هرگاه مالیه دهنده، مطابق حکم فقره های (۲و۳) مادۀ هفتم این قانون، اظهار نامۀ مالیاتی خویشرا ارائه نه نماید یا نواقص را رفع نکند، ادارۀ مالیات ذمت مالیاتی را به طور تخمین سنجش و یادداشت تعیین مالیه را به مالیه دهنده صادر می نماید.**

(۳) که چېرې د مالیاتو اداره، نوي معلومات ترلاسه کړي چې پربنسټ یې مالیاتي ذمت بدلون ومومي، پدې صورت کې د مالیې د ټاکلو د تعدیل یاددښت د مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو له نېټې څخه د پنځو کلونو یا د هغې مودې په ترڅ کې چې په مالیاتي قوانینو کې اټکل شوې ده، صادروي.

(۴) که چېرې مالیه ورکوونکی له مالیې څخه د تېښتې په قصد، خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي یا غیر دقیق اظهارلیک وړاندې کړي، د مالیاتو اداره کولای شي په هر وخت کې د مالیې د ټاکلو یاددښت صادر او یا تعدیل کړي.

(۵) که چېرې د مالیاتو اداره تشخیصه کړي چې د مالیې ورکوونکي د ذمت مالیې ترلاسه کول د دمخه دورو یا رواني دورې له بابته چې په راتلونکې کې د ورکړې وړ ګرځي، په خطر کې قرار لري، د مالیاتو اداره د مالیې د ټاکلو یاددښت په لنډ وخت کې صادروي.

(۳) هرگاه ادارۀ مالیات، معلومات جدید را دریافت نماید که به اساس آن ذمت مالیاتی تغییر یابد، دراین صورت یادداشت تعدیل تعیین مالیه را درخلال پنج سال ازتاریخ ارائه اظهار نامۀ مالیاتی یا مدت که درقوانین مالیاتی پیشبینی گردیده، صادر می نماید.

(۴) هرگاه مالیه دهنده به قصد فرار از مالیه، اظهارنامه مالیاتی خویش را ارائه ننماید یا اظهارنامه غیر دقیق را ارائه کند، ادارۀ مالیات می تواند در هر زمان یادداشت تعیین مالیه را صادر و یا تعدیل نماید.

(۵) هرگاه ادارۀ مالیات تشخیص دهد که تحصیل مالیه ذمت مالیه دهنده بابت دوره های قبلی یا دوره جاری که در آینده قابل پرداخت می گردد، درمخاطره قرارداشته باشد، ادارۀ مالیات یادداشت تعیین مالیه را برای هر مقطع زمانی صادر می نماید.

**د اړوندو اشخاصو ترمنځ له معاملې ځخه د پیداشوې مالیې تثبیت**

**نهمه ماده:**

که چېرې ورکړل شوی یا د ورکړې وړ مبلغ د اړوندو اشخاصو ترمنځ په یوه معامله کې د غیر اړوندو اشخاصو ترمنځ له موافقه شوي مبلغ ځخه په ورته معامله کې په بازارکې توپیر ولري، د مالیې د تثبیت په منظور، په بازارکې د نا اړوندو اشخاصو ترمنځ ورکړل شوی یا د ورکړې وړ مبلغ، په پام کې نیول کېږي.

**د مالیې کمېدل**

**لسمه ماده:**

که چېرې شخص عمداً په هغه معامله یا موافقه کې وارد شي چې د هغه د مالیې د کمېدو لامل شي، د مالیاتو اداره دا ډول معامله یا موافقه رد یا تعدیلوي او د ذیدخلو اشخاصو حقیقي مالیه ټاکي، پدې صورت کې مالیه ورکوونکی د ټاکل شوې مالیې پر ورکړې مکلف دی.

**تثبیت مالیهٔ ناشی از معامله میان اشخاص مرتبط**

**مادهٔ نهم:**

هرگاه مبلغ تأدیه شده یا قابل تأدیه دریک معامله میان اشخاص مرتبط ازمبلغ توافق شده میان اشخاص غیر مرتبط درمعامله مشابه دربازار متفاوت باشد، به منظور تثبیت مالیه، مبلغ تأدیه شده یا قابل تأدیه میان اشخاص غیر مرتبط دربازار، درنظر گرفته می شود.

**کاهش مالیه**

**مادهٔ دهم:**

هرگاه شخص عمداً وارد معامله یا موافقه ای شود که باعث کاهش مالیه وی گردد، ادارهٔ مالیات چنین معامله یا موافقه را رد یا تعدیل نموده و مالیه حقیقی اشخاص ذیدخل را تعیین می نماید، در این صورت مالیه دهنده مکلف به تأدیه مالیه تعیین شده می باشد.

## څلورم فصل

## مالياتي شخړې

**اعتراض**

**يوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې ماليه ورکوونکی په مالياتي تصميم قناعت ونلري، کولای شي د تصميم د خبرتيا د ترلاسه کولو له نېټې څخه د پنځه څلوېښتو ورځو په ترڅ کې، خپل اعتراض په منظور شوي فورم کې د دليلونو په يادولو سره د مالياتو ادارې ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې ماليه ورکوونکی د مؤجهو دليلونو پربنسټ ونشي کړای ددې مادې د (۱) فقرې په درج شوې موده کې خپل اعتراض وړاندې کړي، کولای شي د تمديد په هکله يې د مالياتو ادارې ته په ليکلي ډول غوښتنه وکړي.

(۳) که چېرې د مالياتو اداره دليلونه مؤجه وګڼي، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی غوښتنليک منظور او غوښتنليک کوونکي ته په ليکلي ډول خبر ورکوي.

## فصل چهارم

## منازعات مالياتی

**اعتراض**

**مادۀ يازدهم:**

(۱) هرگاه ماليه دهنده به تصميم مالياتی قناعت نداشته باشد، می تواند در خلال چهل و پنج روز از تاريخ دريافت اطلاعيه تصميم، اعتراض خويش را در فورم منظور شده با ذکر دلايل آن به ادارۀ ماليات ارائه نمايد.

(۲) هرگاه ماليه دهنده بنابر دلايل مؤجه نتواند در ميعاد مندرج فقرۀ (۱) اين ماده اعتراض خود را ارائه نمايد، می تواند در مورد تمديد آن به ادارۀ ماليات کتباً درخواست نمايد.

(۳) هرگاه ادارۀ ماليات دلايل را مؤجه داند، درخواست مندرج فقرۀ (۲) اين ماده را منظور و به درخواست کننده کتباً اطلاع می دهد.

(۴) د اعتراض د غوښتنلیک د وړانـــدې کولو د وخت تمدیدېدل، ددې مادې په (۱) فقره کې درج له ټاکلې نېټې څخـــه وروسته له پنځلسو ورځو نشي زیاتېدي، خوداچې د مالیاتو اداره د مهال د تمدید په هکله بل ډول تصمیم ونیسي.

(۵) د مالیاتو اداره مکلفه ده، د اعتراض د غوښتنلیک د ترلاسه کولو له نېټې څخه د شپېتو ورځو په ترڅ کې تصمیم ونیسي او د تصمیم له نېټې څخه د دېرشو ورځو په ترڅ کې مالیه ورکوونکي ته په لیکلي ډول خبر ورکړي.

(٦) که چېرې مالیه ورکوونکی د اعتراض د غوښتنلیک د وړاندې کولو لـــه نېټـــې څخه د نوي ورځو په ترڅ کې، تصـــمیم ترلاسه نه کړي، کولای شي د مالیـــاتي شخړو د حل بورډ ته غوښتنلیک وړاندې او له موضوع څخه په لیکلـــې توګـــه د مالیاتو ادارې ته خبر ورکړي.

## د اعتراض پر تصمیم باندې نه قناعت

### دوولسمه ماده:

(۱) که چېرې مالیه ورکوونکی د اعتراض په اړه د مالیاتو د ادارې په تصمیم قناعت

(۴) تمدید زمان ارائـــه در خواســـت اعتراض از پانزده روز بعـــد از تـــاریخ معینه مندرج فقرۀ (۱) این ماده بیشـــتر بوده نمی توانـــد، مگـــر اینکـــه ادارۀ مالیات در مورد تمدید زمان، طور دیگر تصمیم اتخاذ نماید.

(۵) ادارۀ مالیـــات مکلـــف اســـت، درخـــلال شصـــت روز ازتـــاریخ دریافت درخواست اعتراض، تصـــمیم اتخاذ و از تاریخ تصمیم در خلال ســـی روز به مالیه دهنده طور کتبی اطـــلاع دهد.

(٦) هرگاه مالیه دهنـــده درخـــلال نود روز از تاریخ ارائـــه درخواســـت اعتراض، تصمیم را دریافت نه نمایـــد، می تواند به بورد حل منازعات مالیاتی، درخواســـت را ارائـــه وموضـــوع را طور کتبی بـــه ادارۀ مالیـــات اطـــلاع دهد.

## عدم قناعت بر تصمیم اعتراض

### مادۀ دوازدهم:

(۱) هرگاه مالیه دهنده به تصمیم ادارۀ مالیات مبنی بر اعتراض قناعت نداشـــته

ونه لري، کولای شي د دېرشو ورځو په ترڅ کې د مالياتي شخړو د حل بورډ ته د نوې کتنې غوښتنليک وړاندې کړي.

(۲) که چېرې د شخړې اړخ يا اړخونه د مالياتي شخړو د حل بورډ په تصميم قناعت ونه لري، کولای شي د تصميم د ترلاسه کولو له نېټې څخه د دېرشو ورځو په ترڅ کې، واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي پرته لدې، د مالياتي شخړو د حل بورډ تصميم نهايي او د تطبيق وړ دی.

(۳) د مالياتو اداره، د مالياتي شخړو د حل بورډ نهايي تصميم او يا د محکمې پرېکړه له ليکلي ابلاغ وروسته تطبيقوي.

## د سندونو اعتبار

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د مالياتي قوانينو د حکمونو مطابق مالياتي تصميم، د تصميم خبرتيا او نور صادر شوي يا اجراء شوي سندونه، د هغو نيمګړتياوو د جزيي تېروتنې په خاطر چې د اصله موخه اغېزمنه نه کړي، له اعتباره نه ساقطېږي.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې حکم هغه وخت د تطبيق وړ دی چې سندونه يې

باشد، میتواند در خلال سی روز به بورد حل منازعات مالیاتی درخواست تجدید نظر را ارائه نماید.

(۲) هرگاه طرف یا طرفین منازعه به تصمیم بورد حل منازعات مالیاتی قناعت نداشته باشد، می توانند در خلال سی روز از تاریخ دریافت تصمیم، به محکمۀ ذیصلاح مراجعه نمایند در غیر آن، تصمیم بورد حل منازعات مالیاتی نهائی و قابل تطبیق می باشد.

(۳) ادارۀ مالیات، تصمیم نهائی بورد حل منازعات مالیاتی و یا فیصله محکمه را بعد از ابلاغ کتبی تطبیق می نماید.

## اعتبار اسناد

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) تصمیم مالیاتی، اطلاعیۀ تصمیم و سایر اسناد صادر شده یا اجراء شده مطابق احکام قوانین مالیاتی بخاطر نواقص یا اشتباه جزئی که اصل هدف را متأثر نه سازد، از اعتبار ساقط نمی گردد.

(۲) حکم فقرۀ (۱) این ماده زمانی قابل تطبیق میباشد که اسناد آن قانونی بوده و

قانوني وي او هغه شخص ته چې صادرېږي، مشخص شوی وي.

## د اثبات او نورو مواردو مسئولیت

**خوارلسمه ماده:**

(۱) مالیه ورکوونکی مکلف دی، د مالیاتي تصمیم غیر دقیق والی د شخړې په هر پړاو کې ددې فصل د حکمونو مطابق، په اثبات ورسوي.

(۲) د مالیاتي شخړې څرګندېدل د مالیې د ترلاسه کولو خنډ کېدای نشي.

(۳) د مالیاتي شخړو د حل بورډ یا محکمې ته د مالیه ورکوونکي غوښتنلیک،د اعتراض په غوښتنلیک کې درج شوو مواردو پورې محدود وي، خوداچې د مالیاتي شخړو د حل بورډ یا محکمه مالیه ورکوونکي ته اجازه ورکړي، ترڅو نوي موارد پر هغه باندې ور زیات کړي.

به شخصی که صادر می گردد، مشخص شده باشد.

## مسئولیت اثبات و سایر موارد

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) مالیه دهنده مکلف است، غیر دقیق بودن تصمیم مالیاتی را در هر مرحله منازعه مطابق احکام این فصل، به اثبات برساند.

(۲) بروز منازعۀ مالیاتی مانع تحصیل مالیه شده نمی تواند.

(۳) درخواست مالیه دهنده به بورد حل منازعات مالیاتی یا محکمه، به موارد مندرج درخواست اعتراض محدود می باشد، مگر اینکه بورد حل منازعات مالیاتی یا محکمه به مالیه دهنده اجازه دهد تا موارد جدید را بر آن اضافه نماید.

## پنځم فصل

## د مالياتو ترلاسه کول

**د ماليې ورکړه**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) ماليه ورکوونکی مکلف دی، د خپل ذمت ماليه د مالياتي قوانينو د حکمونو مطابق، ورکړي.

(۲) ماليه ورکوونکی، د مؤجهو دليلونو د موجوديت پربنسټ، کولای شي د خپل ذمت ماليې د ورکړې د وخت د تمديدېدو په منظور، په مالياتي قوانينو کې د درج شوې مودې په ترڅ کې، د مالياتو ادارې ته ليکلی غوښتنليک وړاندې کړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي حالت کې، د مالياتو اداره کولای شي، د دليلونو، مالي وضعيت او د ماليه ورکوونکي د غوښتنليک د ضميمې د سندونو له په پام کې نيولو سره، د ماليې د ورکړې وخت تمديد يا په قسطونو سره ورکړه منظور او ماليه ورکوونکی په ليکلي ډول خبر کړي.

(۴) که چېرې ماليه ورکوونکی د قسطونو

## فصل پنجم

## تحصيل ماليات

**پرداخت ماليه**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) ماليه دهنده مکلف است، ماليۀ ذمت خويش را مطابق احکام قوانين مالياتی تأديه نمايد.

(۲) ماليه دهنده، بنابر موجوديت دلايل مؤجه، می تواند به منظور تمديد زمان پرداخت ماليه ذمت خويش به ادارۀ ماليات درخواست کتبی را در خلال مدت مندرج قوانين مالياتی، ارائه نمايد.

(۳) در حالت مندرج فقرۀ (۲) اين ماده، ادارۀ ماليات می تواند با نظر داشت دلايل، وضعيت مالی و اسناد ضميمه درخواست ماليه دهنده زمان پرداخت ماليه را تمديد يا پرداخت را به اقساط منظور و ماليه دهنده را کتباً اطلاع دهد.

(۴) هرگاه ماليه دهنده در پرداخت

په ورکړه کې سستي وکړي، د نه ورکړل شوي مبلغ مجموع په يو ځلي توګه لــه هغه څخه د ترلاسه کولو وړ ده.

(۵) د ورکړې يا په قســطونو ســره د ورکړې د وخت تمديدېدل د مالياتو پــه ورکړه کې د ځنډ له بابته د اضافي مالياتو د وضع کولو خنډ نه ګرځي.

(٦) که چېرې د مالياتو اداره په لاس کې د شته مدارکو پربنسټ، ډاډمن شي چې ماليه ورکوونکی د ماليې د ورکړې لــه ټاکلې مودې څخه دمخــه، افغانســتان پرېږدي، ماليه په هغه نېټه کې د ورکړې وړ ده چې د مالياتو اداره هغه وټاکي او د ليکلې خبرتيا په ذريعه ماليه ورکوونکي ته خبر ورکوي.

## له دريم شــخص څخــه د ماليــه ورکوونکي د نه ورکړل شوو مالياتو ترلاسه کول

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د مالياتو اداره کولای شي، د ماليه ورکوونکي له موافقې پرتــه، د ليکلــې خبرتيا له امله، نه ورکړل شوې ماليه لــه دريم شخص څخه ترلاسه کړي.

اقساط تعلل نمايــد، مجمــوع مبلــغ پرداخت ناشده طور يکبــارگی از وی قابل تحصيل می باشد.

(۵) تمديد زمان پرداخت يا پرداخت به اقساط مانع وضع ماليات اضافی بابــت تــــأخير در پرداخــــت ماليــــات نمی گردد.

(٦) هرگاه ادارۀ ماليــات بــه اســاس مدارک دست داشته، متيقن گردد کــه ماليه دهنده قبل از موعد معــين تأديــه ماليه، افغانستان را ترک مــی نمايــد، ماليه به تاريخی قابل پرداخت ميباشد که ادارۀ ماليات آن را تعيين و ذريعۀ اطلاعيه کتبــی بــه ماليــه دهنــده اطــلاع می دهد.

## تحصــــيل ماليــــات تأديــــه ناشده ماليــه دهنــده از شــخص سوم

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) ادارۀ ماليات می تواند، بدون موافقه ماليه دهنده، بالاثر اطلاعيۀ کتبی، ماليه تأديه ناشده را از شخص سوم تحصــيل نمايد.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې، دریم شـخص د نـه ورکړل شوې مالیې او په هغې پورې اړوند د اضافي مالیې د ټولې یا یوې برخې پـر ورکړې د خبرتیا په ټاکل شوې موده کې مکلف دی. په خبرتیا کې د درج شـوې ورکړې نېټه، د دریم شخص د ورکړې د مکلف کېدو له نېټې څخه دمخه، نه وي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي حالت کې، دریم شخص له هغـه مبلغ څخه د اضافي مبلغ پر ورکړې چې له هغه سره د مالیه ورکوونکي دی او یا له هغه څخه پوروړی دی، مکلف نه دی.

(۴) هغه دریم شخص چې له معاش یـا دستمزد څخه په خبرتیا کې د درج شوو مبالغو په وضع کولو مکلـف دی، ددې مادې په منظور نشـي کـولای دا ډول ورکړې له شل سلنې څخه اضافه وضـع کړي.

(۵) د مالیاتو اداره، پدې ماده کې د درج شوې خبرتیا اصل دریم شخص تـه او کاپي (نقل) یې مالیـه ورکـوونکي تـه استوي.

(۲) در حالت مندرج فقرهٔ(۱) این ماده، شخص سوم مکلف به تأدیه کـل یـا قسمت از مالیه تأدیه ناشده ومالیه اضافی مربوط به آن در میعاد پیشـبینی شـده اطلاعیه می باشـد. تـاریخ پرداخـت مندرج اطلاعیه قبل از تـاریخ مکلـف شدن شخص سوم به پرداخـت، بـوده نمی تواند.

(۳) در حالت مندرج فقـرهٔ (۲) ایـن ماده، شخص سوم مکلف به تأدیه مبلغ اضافه تر از مبلغ که از مالیه دهنده نزد وی بوده ویا از او مقـروض اسـت، نمی باشد.

(۴) شخص سـوم کـه مکلـف بـه وضع مبالغ مندرج اطلاعیه از معاش یـا دستمزد می باشد، نمی تواند اضافه تر از بیسـت فیصـد چنـین تأدیـات را بـه منظـور ایـن مـاده، وضـع نماید.

(۵) ادارهٔ مالیــات اصــل اطلاعیـهٔ مندرج این ماده را به شخص سوم و نقل آن را بـه مالیـه دهنـده ارسـال می نماید.

## درېيم شخص ته د مالیې د ترلاسه کولو د خبرتیا تعدیل

**اوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې مالیه ورکوونکی، په خبرتیا کې درج شوي ټول مبلغ یا یوه برخه یې ورکړي یا ددې قانون د پنځلسمې مادې د (۳) فقرې د حکم مطابق موافقې صورت موندلی وي، د مالیاتو اداره ددې قانون په شپاړسمه ماده کې درج شوې خبرتیا باطل یا تعدیلوي او پدې هکله درېیم شخص ته په لیکلي ډول خبر ورکوي.

(۲) که چېرې درېیم شخص ددې قانون د شپاړسمې مادې د حکم مطابق خبرتیا ترلاسه کړي، کولای شي د مالیاتو ادارې ته د مبلغ د تعدیل یا په خبرتیا کې د درج شوې ټاکلې نېټې د تعدیل په مقصد، په لیکلي ډول غوښتنلیک وړاندې کړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي حالت کې، د مالیاتو اداره غوښتنلیک ارزوي او پدې هکله خپل تصمیم درېیم شخص او مالیه ورکوونکي ته ابلاغوي.

(۴) هغه لیکلې خبرتیا چې ددې مادې د

## تعدیل اطلاعیهٔ تحصیل مالیه به شخص سوم

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) هرگاه مالیه دهنده، تمام مبلغ مندرج اطلاعیه یا قسمت آنرا تأدیه نماید یا طبق حکم فقرهٔ (۳) مادهٔ پانزدهم این قانون موافقه صورت گرفته باشد،ادارهٔ مالیات اطلاعیهٔ مندرج مادهٔ شانزدهم این قانون را باطل یا تعدیل نموده و در مورد به شخص سوم طور کتبی اطلاع می دهد.

(۲) هرگاه شخص سوم مطابق حکم مادهٔ شانزدهم این قانون اطلاعیه را دریافت نماید، می تواند به ادارهٔ مالیات به مقصد تعدیل مبلغ یا تعدیل تاریخ معینه مندرج اطلاعیه،کتباً درخواست ارائه نماید.

(۳) در حالت مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، ادارهٔ مالیات درخواست را ارزیابی نموده وتصمیم خویش را در مورد، به شخص سوم و مالیه دهنده ابلاغ می نماید.

(۴) اطلاعیهٔ که مطابق حکم این ماده

حکم مطابق صادریږي، ددې قانون په شپاړسمه ماده کې د درج شوې خبرتیا ځای ناستی ګڼل کیږي.

## د مالیې د ترلاسه کولو د خبرتیا په پام کې نیول

**اتلسمه ماده:**

(۱) د مالیې ورکړه د دریېم شخص په واسطه داسې ګڼل کیږي چې د مالیه ورکوونکي په واک کې صورت موندلې او مالیه ورکوونکي ته د دریېم شخص د دین د اداء کولو د اثباتیه مدرک په توګه حسابیږي.

(۲) دریېم شخص مکلف دی چې له هر ورکړل شوي مبلغ څخه ددې قانون د شپاړسمې مادې د حکم مطابق، مالیه ورکوونکي ته خبر ورکړي.

(۳) د دریېم شخص په واسطه ورکړل شوی مبلغ د مالیه ورکوونکي د مالیاتي ذمت پر وړاندې د ورکړې په توګه ګڼل کیږي.

(۴) که چیرې دریېم شخص، ددې قانون د شپاړسمې مادې حکم په پام کې ونه نیسي، شخصاً په هغه کې د درج شوي

صادر می گردد جایگزین اطلاعیهٔ مندرج مادهٔ شانزدهم این قانون دانسته می شود.

## رعایت اطلاعیهٔ تحصیل مالیه

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) پرداخت مالیه توسط شخص سوم طوری پنداشته میشودکه به صلاحیت مالیه دهنده صورت گرفته ومنحیث مدرک اثباتیهٔ ادای دین شخص سوم به مالیه دهنده محسوب می گردد.

(۲) شخص سوم مکلف است که از هر مبلغ تأدیه شده مطابق حکم مادهٔ شانزدهم این قانون، به مالیه دهنده اطلاع دهد.

(۳) مبلغ تأدیه شده توسط شخص سوم منحیث تأدیه دربرابر ذمت مالیاتی مالیه دهنده پنداشته می شود.

(۴) هرگاه شخص سوم، حکم مادهٔ شانزدهم این قانون را رعایت ننماید، شخصاً مکلف به پرداخت مبلغ مندرج

مبلغ پر ورکړې مکلف دی.

## تصفيه کوونکی

نولسمه ماده:

(۱) تصفيه کوونکی، د تصفيه کوونکي په توګه د خپل موقف د ټاکلو له نېټې څخه د څوارلسو ورځو په ترڅ کې، د مالياتو ادارې ته په ليکلې توګه خبر ورکوي.

(۲) د مالياتو اداره، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې خبرتيا د ترلاسه کولو له نېټې څخه له هر ډول مالياتي ذمت څخه چې د ماليه ورکوونکي په واسطه د ورکړې وړ دی يا په راتلونکې کې به د ورکړې وړ وي، د شپېتو ورځو په ترڅ کې تصفيه کوونکی خبروي.

(۳) تصفيه کوونکی نشي کولای، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې خبرتيا تر ترلاسه کولو پورې، د مالياتو د ادارې له اجازې پرته، د ماليه ورکوونکي شتمنۍ له خپل کنترول څخه بهر کړي.

(۴) تصفيه کوونکی مکلف دی، د ماليه ورکوونکي د مالياتي ذمت د ورکړې په منظور، د ماليه ورکوونکي د شتمنۍ له پلورلو څخه ترلاسه شوي عوايد، ددې

آن می باشد.

## تصفيه کننده

مادۀ نزدهم:

(۱) تصفيه کننده، در خلال چهارده روز از تاريخ تعيين موقف اش به حيث تصفيه کننده، به ادارۀ ماليات کتباً اطلاع می دهد.

(۲) ادارۀ ماليات، از تاريخ دريافت اطلاعيۀ مندرج فقرۀ(۱) اين ماده در خلال شصت روز از هرنوع ذمت مالياتی که توسط ماليه دهنده قابل تأديه بوده يا در آينده قابل تأديه می گردد، تصفيه کننده را مطلع می سازد.

